مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست ۲۰۲۲/۱۲/۱۵

# د رحمان بابا پر قدم

”څوک دې را کاندې قسم په کردګار”
که په غم کې د ډوډۍ یم، یا روزګار
قناعت سره یو ځای یمه لوی شوی
نه هوس د عیش لرم، نه د دربار
لکه موج بې قرارۍ سره بلد یم
لکه زړه له دریدو لرمه ډار
له اوبو سره هم ژوند شم تیرولی
لکه کب له غوړو، چربو یم بیزار
خو بیا هم د اندېښنو منځ کې راګیر یم
د وتلو مې پیدا نکړه هیڅ لار
دا په دا چې درد زما زړه ته را درومي
که هرځای کې پې هر څوک وي ګرفتار
د نهرو په لیدو داسې لړزیږم
لکه ګډه زلزله شي په زوړ ښار
د وطن هره ناخواله مې زړګی خوري
که هر څو نورو ته نه کوم اظهار
شنه لوګي مې له بدنه پورته کیږي
ته وا ایښی مې چا زړه دی په انګار
د وطن ناچاري روغ سړی رامات کړي
لکه تبر په نښتر وکړي ګوزار
نور مخلوق خوښ او ارامه زنده ګي کړي
یو زمونږه ستوری وتی له مدار
کله غم کې وي د سر، کله د ګیډې
له دې دوه غمونو هیڅ نشول وزګار
نیمه ږیره مې زیاتي په سپینیدو شوه
وه مې نه لیده، د خپل ولس قرار
د حسین مخ په ښودلو سوبې وکړي
بیا پوستکی ژر بدل کړي لکه مار
هیڅ طبیب ورته ټپونه ټکور نه کړل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا وطن دی عجیبه کمبخت بیمار
هغه وخت به زه له خیاله کوږ روان شم
چې وطن مې وې تړلی کوږ دستار
لا خندانه مې ولس لیدلی نه دی
غلی کینه مرګه، مکوه تلوار
که راځې نو هغه وخت ( نعمان) ته راشه
چې یو ځل وه وینې خپل وطن ګلزار

نعمان دوست
د لیندۍ ۲۳مه، ۱۴۰۱


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ